محمد اسحاق بـرکت
ویرجینیا ـ امـــریکا

۲۵ جولای ۲۰۰۹

# بیائید پښـتو بیاموزیم

## ځورلسم لوست

## ( درس چهاردهم )

### په پـښـتوکې امدادي توري:

**۴ ـ هـ :**
در دری آنرا هـای گردک ، هـای دوچشمه و هـای (همزه) میگوئیم، زیرا مقابل آن هـای دگری نیز تقریباً به عین صوت و صدا وجود دارد که آنرا هـای حلقی (چون از حلق ادا میشود ) ، هـای حلوا یا های حافظ میگویند و به این شکل املاء میشود (ح).
در مورد این( هـ) گپ ها بسیار است و خیلی ها مهم و ضروری ، ازین جهت این بحث را میگذاریم به دانشمند گرامی جناب معروفی (ادیب و اوستاد زبان دری) ، امید است ایشان در مبجث ( مشکلات املائـی در زبان دری ) درین مورد بیشتر روشنی بیاندازند.

دغه توري ته چي لکه نور امدادي توري دکلماتو نور توروته خوځښت ورکوي په پښتو کي ګردی (ه) ويل کيږي او په دوه ډوله دی: ملفوظي او غير ملفوظي.
او بيا ځيني ليکوالان اوپوهان له بو څه توپير سره هغه ته جلي او خفي (هـا) وايي.

الف ـ ملفوظي (هـ ) :
دغه توری د کلمو په سر ، مينځ او ځيني وخت چي د مخ توری يې الف وی د کلمو په پای کي هم ليکل کيږي لکه:
هـوښـيار ، هـوس ، ګـهيځ ، قهر ، بـهَـر(بيرون )، ناګاه
ځيني پوهان بيا دلته د ملفوظي (هـ ) پر ځای وايي : چي جلي (هـ) هغه ده چي د مخ توری يې زوَر (زبر) ولري او د کلمو په پای کي ليکل کيږي لکه :
ټـولنه ، اوسپنه ، مـنـه او ....

ب ــ غیر ملفوظي( هـ ) :
په پښتو کې هغه ګردی (ه ) ته غیر ملفوظي وایي چې مخکنی توری یې زوَر یا زوَرکی (زیر)
ولري او د کلمو په پای کې لیکل کیږي لکه :
ملا له ، شپه ، پښـه، تخته ، ساړه ، واده ، واښـه او....
ځینې پوهان غیر ملفوظي ګردی (ه) خفی بولي اووایي کله چې دمخ توری یې زورکی و لري
امدادی توری دی لکه:
ساړه ، واده ، واښـه او....

**یـادښت :**
علاوه بر حروف مصوت یا (واولها) بعضی حرکات و آوازها نیز حروف را بدون موجودیت واولها
در کلمات به حرکت میاورند، همانگونه که در عربی و دری ازان به وفرت استفاده میشود در پښـتو
نیز کاربرد وسیع دارند و آنها عبارت اند از :
فتحه ( زبر) ، کسـره ( زیر ) ، ضمه ( پیش ) ، تنوین ، مـد و....
پرته له هغو توریو چې مخکې مو پرې خبرې وکړې ځینې نور حرکتونه او آوازونه هم شته
چې توریو ته په ویـیوکې خوځښت ور کوي او هغه دادي :
ــ زوَر یا زبر لکه:
غَل (دزد ) ، مَل ( همراه ) ، شَربَت ،
ــ زوَرَ کی یا زیـر لکه:
شِل ، رټِل (راندن ) ، ځغَمِل ( تحمل کردن ) ، ښکنځِل ( دشنام )، ځغستِل( دویدن )
ځَپِل ( کوبیدن )
ــ پیش لکه :
کُل ، بُلبُل ، کابُل
ــ تنوین :
چېرته تنوین وي هغه به خامخا عربي لغت وي او په پښتو کې ډیر کارول کیږي لکه:
مثلاً ، مخصوصاً
ــ مـد لکه :
آس ( اسپ ) ، آسمان

تر بل پښتو لوست پورې مو په لوی او ښبونکي خدای سپارم ، ښـې چارې او بختورې شپې
او ورځې !